# بسم الله الرحمن الرحیم

<u>خبر او تبصره</u>

## اروپايي رهبرانو په هالاکاوسټ تاريخي پېښه کې يو ځل بيا خپل دوه‌مخيتوب وښود

**خبر:**

د اوسشوېتز له ازادۍ ۷۵ کاله وروسته، د تېرې جنورۍ په پای کې د اروپايي هېوادونو رهبران په بيت المقدس کې د هالاکاوسټ او د يهودو پر وړاندې جګړې په يادغونډه کې سره راټول شول. شهزاده چارلز، د جرمني ولسمشر فرانک والټر شټېنمېير، د فرانسې ولسمشر ايمانوېل مکرون او د ډنمارک لومړی وزير مېټ فرېډيکسن هم په دغو ګډونوالو کې شامل وو.

**تبصره:**

غربي رهبران هره ورځ نه سره راټولېږي. په هر حال، دوی په اشغال شوي بيت المقدس کې سره راټول شوي وو، چې د اوسشويتز د ازادۍ ۷۵مه کليزه ونمانځي. دوی ادعا کړې چې دغه غونډه په هغې پېښه کې د بشريت پر وړاندې د ظلمونو د يادولو لپاره ده، خو ګډونوال او کوربه يې داسې کسان نه وو چې په بشري ارزښتونو وپېژندل شي.

د غونډې په ګډونوالو او ويناوالو کې يو د روسې ولسمشر ولاديمير پوتين و، دی يو نامتو جنګي جنايتکار دی چې په چيچين او سوريه کې يې ډېرې وژنې او ظلمونه کړي. دی همداراز د سياسي مخالفينو او مهمو ژورنالېستانو په وژلو او شکنجه کولو مشهور دی. بل ويناوال يې لوی جنګي جنايتکار، د يهودي رژيم لومړی وزير، بنيامين نتنياهو و چې په غزه او ټول فلسطين کې يې ډېر ظلمونه او قتلونه کړي.

د اوسشوېتز ظلمونه په پولنډ کې شوي وو او ډېری قربانيان يې هم پولنډيان وو، نو بايد دا يادغونډه په پولنډ کې شوې وی؛ خو دوی دا کار په اشغال شوي فلسطين کې وکړ! په يوه داسې دولت کې د نسل‌وژنې د ياد غونډې نيول، چې پخپله د فلسطين د بوميانو د نسل‌وژنې او عام‌وژنې په پايله کې جوړ شوی. دا په اصل کې نه يوازې دوه‌مخيتوب او رياکاري ده، بلکې پر قربانيانو يې ريشخند وهل هم دي!

لوی شرم خو دا و چې د دغې غونډې اصلي څېره، په غزه کې د زرګونه ماشومانو، لويانو او ښځو قاتل، لوی جنګی جنايتکار، بنيامين نتنياهو و. غربي رهبران چې هر وخت له پوتين او نتنياهو غوندې جنګي جنايتکارانو سره يو ځای شي، خپله اصلي څېره ښيي. د دوی دا ډول چلند او رياکاري، د زغملو نه دي.

د دغې تاریخي غونډې له یادولو باید درسونه زده شوي وی. له هالاکاوسټ څخه غربي رهبرانو څه زده کړل؟ له ۱۹۳۰ او ۱۹۴۰م کال راهیسې چې اروپایان په عاموژنو کې برخه اخلي او هغه کېوال خپلو هېوادونو ته نه پرېږدي چې له دغو عاموژنو ورتښتي، دوی څه بدلون کړی؟ یوه ذره هم نه. دوی په نسل وژنو کې مستقیماً او نامستقماً ونډه لرله؛ لکه په بوسنیا او روانډا کې. عین کار په سوریه او یمن کې هم کوي. نن ورځ غربي هېوادونه د دوغو دوو هېوادونو د خلکو په پراخه کچه وژلو کې مستقیمه او په ناستقیمه توګه دخیل دي. کېوال یې خپلو هېوادونو ته نه پرېږدي او همداسې بې پروایي ورسره کوي چې ومري. دوی همدغه کار د هالاکاوسټ پر وخت هم وکړ.

په حقیقت کې هېڅ شي بدلون نه دی کړی. دوه مخیتوب او د کپیټالېسټي نړۍ رسوایي لا زیاته شوې. کله چې مسلمانان د الله سبحانه و تعالی په خوښه اسلامي دولت تاسیس او فلسطین ازاد کړي، نو له خلکو سره په خپلو اسلامي چلند –چې قران یې امر کړی- سره به نړۍ ته وښیي چې عدالت څنګه وي. دغه دولت به د هغه ورځې چې تاریخي ظلم پکې شوی وي، داسې یادوي چې عملاً به د مظلومانو لاس نیسي او د ظالمانو پر وړاندې به درېږي؛ الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ﴾

[نساء: ۱۳۵]

***ژباړه:*** *اې مومنانو، د عدالت علمبرداران او د خدای لپاره شاهدان و اوسئ....*

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## تیم الله ابو لبان